نن هېرېدونکی سړی !

# ملا عبدالباقی افغان

پنځوس کاله دمخه دکندهار په کوڅو او بازارو کښي یو سپین ږیری او متقي سړی لیدل کېدی. چي د خمتا شنه کالي به ئې اغوستي وه، او اکثر به لڅي پښې گرځېدئ ظاهراً به پټ خولی او فکرجن ښکارېدی مگر که به د وینا اوتبلیغ وخت سو، دی یو فصیح او موثر او اوږ ژبئ خطیب ؤ.

دا سړی د کندهار د کاکړانو اتیا کلنی بوډا او پر ملا کړوپ مشهور صوفي او لوی مبلغ او شاعر او عالم ؤ، ده په پښتو ژبه یو کتاب په اوږد مثنوي تقریباً شپږ زره بیته لیکلی دئ، او تخلص ئې افغان ؤ.

صوفي عبدالباقي خپل اوږد عمر د علم په تحصیل او تفکر او سیاحت کښي تېر کړی ؤ، څو واره پیاده په شرقي هیوادو کښي تر مصره او حجازه تللی، او د هند برعظیم ئې لیدلی ؤ، د صوفیانو او پوهانو په حلقو کښي گډ سوی، او د اسلام پر سابق او لاحق حالت ئې علماً او مشاهدتاً ډېر فکرونه کړي وه، ملا عبدالباقي لکه افغان چي

تخلص کاوه، په ټولو معناوو يو سوچه افغان هم وُ، ده د خپل ملت سره د زړه علاقه درلوده، او د خلکو يو خواخوږی رهنما او د اصلاح لوی مبلغ وُ، دی صوفی وُ، د ديني علومو لوي پوهاند وُ، مگر زاويه نشين نه وُ، ده کومه خانقاه اومريدان نه درلودل، مگر پر هر منبر ولاړ فکور او حق ويونکی مبلغ وُ، په بازار اوکوڅو او د خلکو په ټولنو کښي حاضر وُ، او دوي ته به ئې د دوي په ژبه له ديني لاري د اصلاح او سمون تبليغ کاوه، د ده پيشه تجارت او زراعت وُ، مگر پر خپل نفس دونه حاکم وُ، چي تل به ئې د خمتا وطني کالي اغوستل، او په خوراک او څکاک کښي هم سخت متقي او پرهېزگار وُ، چا چي به دده د ژوند او ژواک ډول ليد او بيا به ئې د ده فکري حال کوت، نو به ضرور امام غزالي يا قشيري او سراج ورپيادېدل.

د افغان په سيرت کښي څو غټ غټ ټکي دا وه :

چي يو فکور او متقي عالم وُ، د عمل خاوند وُ، د اسلامي احکامو سخت پيرو او مبلغ وُ، اما په عين دغه حالت کښي يو ملت دوست او اصلاح طلب او په اجتماعي امورو پوه او د وسيع نظر خاوند هم وُ، ده چي په پښتو کوم کتاب نظم کړئ دئ، نوم ئې تهذيب الواجبات في تخريب العادات دئ.

دا کتاب د يوه مسلمان پښتانه لپاره د اجتماعي ژوندون رهنما دئ، او پښتنو ته ئې د دوی اجتماعي مفاسد ور ښوولي او د روزمره معاملاتو د اصلاح لاري او چاري ئې په انتقادي ژبه بيان کړيدي.

د افغان له غاٸره جزوي او واړه فسادونه هم نه پټيږي، مثلاً : د ښږوالي په چارو کښي لا هم خلکو ته رهنمايي کوي چي يوه نمونه ئې داده :

نظر وکـه وکوڅـو تـه کـه آبـرو دي کـه مېـزاب
چـي ضـرر وئ، ومخلـوق تـه منـع سـوي پـه کتـاب
سـر ددیـن لـه کلمـې دی پـای ئـې راغلـه دا خیـره
چـي آزار لـه لاري واخلـه کـه اغـزي وئ کـه ډبـره
د بابـا مناقـب ډېـر دي، د شـپې سـتوري نښـاني وو
تې د سرای آبرو ته گوره چي پر کوم طرف جاري وو
کې د کښت اوبه راغلي و داسي ځای ته چي ضرر
د بـوده و د سـړیو پـر خـټ بېـل دده ممـر
د حساب تخمین ئې وکړه هر حیوان چي پر تېرېږي
پـه لـی کـي عـذاب دی څـو آبـرو ئـې کـوره کیـږي
انبارونـه یـا مـوچي د کوڅـو ومیانتـه پاشـي
د دوږخ د اوراغـزي دي د لـی د پـاري تراشـي
کـه مـو مـچ پـر پـزه کښینوسـت طبیعـت مـومي ضـرر
واجبـات پـه پښـو پایمالـه نـه مـو بـاک سـته نـه اثـر
بازاري جاهل ناپوهه چتر ئې جوړ کی پـه لـو لار کي
لا برسیره ښکنځا وایي اوبښ والا تـه یـاد ئـې پلارکـی

**افغان د خپل وطن په تاريخ او د خپل ملت د ژوندانه په اسرارو هم اگـاه دئ، دی د هيواد د آزادۍ يگانه عامل د خپـل ملـت غيـرت او شـهامت گڼـي او د آزادۍ اول جنگ ته داسي اشاره کوي، او وزيـر اکبرخـان او عبـدالله خـان اڅکزی ستايي :**

د بـارک او د اڅـک د بـوډی تـول درویـاقوت
چـي اکبـر او عبـدالله ددي لـه شـهره مینـده قـوت:
د یـوه سـاعت پـه نـوري ددوو کونـو ظلمـت تـول کـی
قـاف چـي کـاني سـي د نلـي. تـر قیامـت بـې نـه تـول کـی

تـول بـه نـه سـي دا عمـل بـې لـه ميزانـه دالله
كـوه قـاف بـه ورتـه ايسـي لكـه وړو پـاڼي د كـاه
لابـه كلـه غوتـه سـوى وو د كفـر پـه تـالاب كـي
هغـه تـوره ده ځليـږي، پـه منبـر او پـه محـراب كـي
د لاتهـانو ككـرۍ ئـې د وړو د ميـدان گـوى
د آسمان پر صفحه خط سوه چي افغان د توري زوى
دا نـه فخـر دى نـه لافـه. شـكرانه سـوه د نعمـت
كې په كښلو اوښان بـار كړو شمار بـه نسي دا دولت
غوړېدلې مځكه ټولـه، كُل اسلام او درست جهان
دا قـدر تـوره ئـې نسـته لكـه تـوره دافغـان
چي د كفر كوښي خيژي د حضرت د ديـن په ځټ كي
كه څو آل د مصطفى وٴ، پدې اور به ځان مكوټ كي
جهـنم زمـا قبـول دى. ربـه واوره دا كـلام!
چي زما ددين دښمن دى، هيڅ وخت نه سي زمـا امـام

**افغان پر اقتصادي چارو او د ژوندانه پر معاملو باندي ځير نظر لـري او پخپل كتاب كښي هـر ځـاى نـواقص بيـانوي، وايـي : چـي خپـل اقتصادي منابع بربادوو، خو په هغو شـيانو كښـي پـردو تـه د اړتيـا لاس غځوو دا ولي ؟**

دیـن ایمـان وسـو پـه اور کـی چـي نبـات پـه برابـر سـي
کـه نبـات پـر انگـار دود سـو غیبانـه بـه مـو رهبـر سـي
بـادام سخت د دیـن اسباب دي هنج، بسته سوه لـه هراتـه
زیـره ځـای پـه ځـای پاشـلي ولـي سـي لـه مانـه پاتـه ؟
زمـا روپـۍ د نـن سـکه ده، چـل ئـې سو پـه درې ښـاهیزه
بیرتـه سـوه پـه هنـد کـي پاتـه، داپـه کـوم عقـل جـایزه
ځـوچي ورکـړم بیـت المـال تـه ده یکـه نـه سـوه دهنـد
زمـا بسـتان دهندوسـتان دی، پـه جـادو ئـې یـو یـو رنـد
لـه ذاکـره تـر شـامیره متصـل بـاغ بسـتان
مـچ، میـږی کـه غـابښ پـه خـوږ کـا، زیاتـه ټول دهندوستان
پـه نیمـي قیمـت ئـې پـرولم پـه سـلم اخلـم ثمـن
نـه زه خـلاص سـوم لـه طلبـه نـه مـي نـوی سـو کفـن
خروارونـه مـي د تیلـو پـه جلګـو کـي کـرل کیـږي
زه و مـړه ځـراغ تـه ناسـت یـم ځـو د هنـد تیـل را رسیـږي
کـه ایـران دی کـه تـوران دی ابـریښم ئـې پـه بـارو
زمـا د ملـک وریښـم کـه وسـوه ژر بـه سـي پـه غـرارو
مسـلمان پـر پیسـه وژنـم زر پراتـه دي تـر پښـو لانـدي
کـه مـو دانشـر مـوزون سـي وابـه نـه وري د غـم سـاندي
بایـد ښځـي مردانـه سـي. جـان بـازي لـرو لـه مخـه
پـر ځرخښـت مـو ځـان تبـاه کـی. بالکـل ولوېـده لـه توخـه
فـلان خـان لـه یخـه مـړ سـو، وا ئـې نـه غوسـتله کراسـته
چي هر څه ئې تلاښ وکـی سمسـور نـه سو جوړ لـه خواسته
رنګـا رنـګ چینیـان د چیـن او دمـاچین پـر رف پراتـه
د حـاجي صـاحب پـه کـور کـي ځکـه سوه زړونـه وراسـته

مقتــداء د نــيم اســلام ســو ړيــري برېښــي لکــه بــرق
ځوک هم ستره په پښتانه کي، چي ئې وکړي د ښو فرق
جــت جــولا ويخنــي تــه زهــر چــاودي پــر چپنــه
مناســب نــا مناســبه بالکــل ورک ســو لــه وطنــه
د مــړو يرغــل گرانــي وه لــه واښکــي ئــې کمــر بنــد
قــوانين پکــي وهلــي، چنتــاران ئــې وه دربنــد
درپــه يــاد کــه هغــه وخــت چــي مــريټ واهــه پــه تــوره
نــه لښکــر کــي دي فتنجــان وکــه قــوتي لــه پېښــوره ؟
د جنګــۍ پــه شــان بــازۍ ســوې لــوئي ړيــري نــاوکــۍ
چــي مــردي د مېــړه نــه وه، طبيعــت ئــې د جنګــۍ

افغان پنځوس کاله پخوا داسي مضامين په خپل کتاب کښي ويلي دي، چي اوس لا هم زموږ په کار راځي، دی ځلويښت کاله دمخه په کندهار کښي تر دنيا تېر سوی دی، مگر دفکر او شعر او اصلاحي جذباتو وړانگي ئې تراوسه لاهم برېښي.(۱)

(۱) کندهار مجله، ۱۳۴۲ کال، پنځمه گڼه ص ۳ _ ۷.